# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com     www.afgazad.com

| تاریخي | Historical |
|---|---|

ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار
۲۷ می ۲۰۱۵

## ماته يي هيواد دوستي مهمه ده، نه عقيده لکه د موسوي

تاریخ د نن ورځې د ارزښتونو او واقعیتونو په تله کي تلل، د تاریخ سره ناځواني ده ، ذهنګري ده، او بي انصافي ده. که په یو چا باندي د مزدور سرتيري ټاپه وهل روا وګڼو ، نو باید دیته هم چمتو وو چي لړ تر لږه ځانونه مزدور قلم وا لان حس کړو

ماته ځو ورځې وړاندي، یو پوه او خورا سپین ږیري افغان یو کتاب ګوتی (رساله) را ولیږه، د دي هیلي سره چي ويي لولم او څه پري ولیکم. کور دي د هر یوه لیکونکي او رالیږونکي اباد وي! د کتاب ګوتي په مخپاڼه کي یوازي د لیکوال فامیلي نوم چاپ شوی دی ، نه د هغه ټول نوم. ما داسي وانګیرله چي کتاب به په پټ (مستعار) نوم خپور شوی وي؟ ما لا تر دي ګری ، په کمپیوټر کي د افغانستان ولایتونه ګز کړل، خو د موسوي ټول نوم مي و نشو میندلی. له نیکي مرغي، هغه سپین ږیري افغان ډاډ راکړ چي د لیکوال نوم واقعي دی او دی به يي راته لومړی نوم هم را پیدا کړي. هغه را ته نن (۱۹ می ۲۰۱۵) د استاد موسوی ټول نوم په دي ډول راکړ: سید حسین موسوی

د لیکوال نوم او د کتاب سرلیک يي دی: [سید حسین] موسوی، **سال ۱۷۴۷ میلادی بازتولد یک کشور کهن.** خپروونکي: افغاني تولنه ، امریکا، چاپخونه : اداره ترجمه و تحقیق العلم، پیښور ، ۱۳۸۴تله= اکتوبر ۲۰۰۵. په ۱۱۸ مخونو کي

EMAIL: afghanitolana@yahoo.com

په افغانستان باندي د پخواني شوروي اتحاد له یرغل (دسمبر۱۹۷۹) راهیسي تر نن پوري یو شمیر دیومزاجه او اورپکي (متعصب) تاریخ لیکونکي راوتلي دي. په مقابل کي يي سید حسین موسوي افغان دی، افغانستان پري ګران دی، د کاغذ په مخ پرتي توطئي ماتوي، د ستمیانو د داستان په ځیرولو پسي يي ملا تړلي ده، او د ځیرني څرګند پولیس دی. ښوواند موسوي د افغان ملت او هیواد دوستی په نوم د قلم توره ویستلي ده. د ځپل هیواد د تاریخ د روغي پوهي لپاره يي اغیزمنه ژبه کارولي او قانع کوونکی لارېي نیولي ده. د موسوي د رسالي په هر پړه کي (پراګراف) کي د معلوماتو روښان تنظیم، ملي احساس او هیواد دوستی خوندي شوي دي. په لنډه وینا د استاد موسوي رسالي، له ۱۹۹۲ راهیسي د متعصبو اشخاصو د تاریخ لیکني پهلوانی ته یو کلک انتقادي او تحلیلي مورچل (سنګر) نیولی دی. زه هر افغان او هر متعصب ته د ښوواند موسوی د رسالي د لوستلو سپارښتنه کوم

استاد موسوي د «آقای ,,چهره نما،،» پام هغه څه ته را اړوي چي په سیاسي ژبه کي ورته «کم بر فاشیزم» (نیرو گیژ فاشیزم) ویل کیږي: «آیا می دانید که فاشیزم هیتلری قبل از پرداختن به آن جنایات هولناک در جنگ دوم جهانی که وجدان جامعۀ بشری از آن معذ ب و بهانه ای گردیده در دست صهیونیستهای اسرائیل در کشتار خلق فلسطین، به کدام تبلیغات نژادپرستانه ای اشتغال داشتند؟ وقتی هیتلر بعد ازکسب قدرت لا اقل (۶) میلیون یهود بی پناه را در کوره های آدم سوزی به آتش کشانید، می توانی بنویسی که جناب عالی و سایر هم قطاران تان چه نقشه ای برای ملیت پشتون در سر دارید که چنین بی باکانه **حکم به ,,درد نخوری،، آنها** می نمائید، نکند نقشه هائی از قبیل ,,رواندا،، و نسل کشی در میان باشد و مردم افغانستان از آن اطلاع ندارند؟». موسوي زیاتوي چي: «در این که طبقۀ حاکمۀ ملیت پشتون غارتگر و چپاولگر بوده هیچ جای شکی وجود ندارد، اما این مسأله تنها منوط به طبقۀ حاکمۀ آن ملیت نگردیده، خصلت طبقاتی تمام طبقات حاکمه در تمام ملیت ها از پشتون، تاجیک ، هزاره، روس، ازبک گرفته جرمن، انگلیس، فرانس... غارتگری و چپاولگر یست. ,,آقای محترم،،! اگر کسی بیاید و با تکیه بر غارتگری ها، چپاولگریها، خود فروشیها، قاچاق بریها و میهن فروشیهای مشهود و مستند ربانی، مسعود، فهیم، دوستم، مزاری و سایرین؛ بنویسد که بلی، ـــ ,,هفت کوه سیاه در میان،،ـــ تمام ملیت تاجیک و ازبک وهزاره چپاولگر، میهن فروش و چنان و بهمان است، آیا آن قضاوت را صائب می دانی و یا چطور؟» زما ځیرکیار په اند، د هغه چا نوم په درناوي یادیږي چي سر یي د خیتي د پاسه وي، خوهغه څوک سپک وي چي سر یي د خیتي لاندي وي! **د استاد سید حسین موسوي سر د خیتي د پاسه دی**

۲۲ می ۲۰۱۵